# د اولس مجلې کوټې خصوصي نمبرونو ته کتنه

## Review of Special Editions of Ulas Magzine Quetta

حافظ رحمت نیازی*
ډاکټر نصیب الله سیماب*
(Crosponding Auther)

**Abstract**:

This paper tends to explore the contents that are published in the special editions of the monthly "Oalas" a Pashto journal published for almost four decades from Quetta from the department of information-government of Balochistan. The contents are categorized and interpreted in a way that indicates the patterns that how these special issues were published and thought out. These special editions somehow describe specific themes, persons, and genres that has collected a rich substance to study and analyze.

اولس مجله د جنوبي پښتونخوا (بلوچستان) د سیمې یوه داسې اهمه او معیاري مجله وه چې په سیاسي، سماجي، اخلاقي، دیني، جغرافیائي، ادبي او نورو حوالو یې په زرګونو لوستونکي پیدا کړي وو چې هغوی د اولس مجلې له پاڼو خپله فکري، فني او علمي روزنه کوله. د اکتوبر 1961ء له میاشتې د اګست 1996ء تر میاشتې یو وار دوه له بندېدو وروسته مسلسل جاري پاته شوې ده چې په سلګونو مجلې یې په پورتنیو موضوعاتو پسوللې اولس ته وړاندې کړې دي. خو د خپل دغه عمومي سفر په دوران کښې یې ځنې خصوصي ګڼې هم د ادبي روایت سره سم په بېلابېلو موضوعاتو هم د مجلو او هم د کتابونو په صورت کښې چاپ کړې دي. د دغو خصوصي ګڼو او کتابونو لنډه پېژندګلوي مونږ په دې ډول کولی شو.

### (1) شخصیاتو ته ځانګړې ګڼې

اولس مجلې د خپرونې ادارې په کلونو کلونو خپل علمي سفر جاري ساتلی دی او د خپل روایت سره سم د میاشتنیو ګڼو په ضمن کښې یې کله کله یې ادبي او شخصي ځانګړې مجلې او کتابونه چاپ کړي دي. په دغو خصوصي ګڼو کښې ځنې داسې مضامین چاپ دي چې د اولس مجلې له مضامینو اخستل شوي او کټ مټ په هغه ډول خپارهٔ شوي دي او ځنې مضامین له څهٔ بدلون او اضافې سره چاپ شوي دي. د اولس د دغو ګڼو په اړه راځي چې:

---

* PhD Scholar, Dept. Of Pasho University of Balochistan Quetta.
* nseemab902@gmail.com 03138222486

"د ټرائبل پبلسټي له خوا یو شمېر تبلیغاتي کتابونه، رسالې او پوسټرونه خپارهٔ شوي دي چې مونږ د ځینو نومونه دلته راوړو. (1) پنځهٔ ورونړه (فضل احمد غازي) (2) غورځنګونه (د یو شمېر لیکوالو ترانې)، (3) سپرلی (د یو شمېر لیکوالو او شاعرانو مضمونونه او شعرونه، (4) شاغاسي اکا (د عبدالقدوس دراني [ډرامه]). (5) کاروان روان دی (میاشتني پوسټر). هو، ټرائبل پبلسټي ارګنائزېشن که له یوې خوا د اولس مجلې په وسیله په سهېلي پښتونخوا کښې ګڼ شمېر لیکوال پیدا کړو، نو د بلې خوا د همدې مجلې په برکت زمونږ په سیمه کښې د پښتو په زراوو ویونکې پیدا شول. مونږ د نوموړي ارګنائزېشن له خوا د پښتو په لار کښې خدمتونه ستایو او د پښتو په ادبي تاریخ کښې اولس مجلې ته یو لوړ ځای ورکوو"(1).

لکه څنګه چې پروفېسر سیال کاکړ د ځینو کتابونه نومونه لیکلي دي، ما هڅهٔ کړې ده چې له اولس مجلو پرته ټول چاپ شوي کتابونه ترلاسه کړم، خو د سیال کاکړ له حوالې سره سم "پنځهٔ ورونړه" او "کاروان روان دی" نومي کتابونه ما ته په لاس نهٔ دي راغلي، خو ځنې کتابونه ما ته په لاس راغلي دي د هغو ذکر سیال کاکړ نهٔ دی کړی، یو د مضامینو کتاب د "انتخاب" په نامه چاپ دی او دغه کتاب د سیال کاکړ تر پورتنۍ حوالې له مخه چاپ دی، خو د سیال کاکړ په حواله کښې یې ذکر نهٔ دی شوی، دغسې یو بل کتاب چې د پښتو، بلوڅي او براهوي د بېلا بېلو شاعرانو ملي نغمې او ترانې چاپ شوي دي چې ځنې په کښې نوې لیکل شوې دي او ځنې له بېلا بېلو مجلو اخستل شوې دي. په دې کښې داسې کتابونه هم شته چې هغه د سیال کاکړ په پورتني مضمون کښې ذکر شوي دي لکه "غورځنګونه" زما په ریکارډ کښې هم دغه کتاب د ځولۍ ګلونه په نامه پروت دی، چې د شاعرانو ملي ترانې او نظمونه په کښې چاپ شوي دي، دغسې د سپرلي په نامه سیال کاکړ کتاب یاد کړی دی چې زما په ریکارډ کښې "د ازادۍ سپرلی" په دې نامه موجود دی، عین ممکنه ده چې د سیال کاکړ یاد کړی کتاب په دغه نامه موجود وي خو ما ته له ډېرې هڅې وروسته هم په لاس نهٔ دی راغلی. خو په سپرلي او د ازادۍ سپرلي دواړو کتابونو موضوع یوه ده چې د لیکوالو نثري مضامین په کښې چاپ شوي دي.

له دې پرته د د عبدالقدوس دراني یوه ډرامه غوندې صنف په اولس مجله کښې قسط وار چاپ شوې ده چې وروسته هم دغه مجله په کتابي شکل کښې د جون په میاشت کښې په کال 1971ء کښې چاپ ده. له دې مونږ ویلی شو چې په سهېلي پښتونخوا کښې لومړۍ ډرامه د عبدالقدوس دراني د "شاغاسي اکا" په نامه چاپ ده، که څهٔ هم محققین د عبدالقدوس دراني اناګو ډرامه د سهېلي پښتونخوا لومړۍ چاپ شوې ډرامه بولي چې په دوه ټوکه کښې چاپ ده. خو د تاریخي حقائقو په بنیاد مونږ ویلی شو چې لومړۍ ډرامه په سهېلي پښتونخوا کښې "شاغاسي اکا" ده.

د اولس مجلې خپرندویې ټولنې له خوا شخصیاتو ته ځانګړې درې مجلې چاپ شوې دي چې دوې ګڼې جولائي 1964ء او جولائي 1965ء کښې یوازې د د دنیا تر ټولو ستر شخصیت د دوو جهانونو سردار، د خاتم الانبیاء، امام الانبیاء، زمونږ ګران پیغمبر حضرت محمدﷺ له ژوند، تعلیماتو، معجزاتو، غزواتو سره سره ځنې شعري نعتیه نمونې په دغو دوو ګڼو کښې راغلي دي. د سیرت نبويﷺ په اړه له دغو دوو ګڼو پرته نور متفرق مضامین هم په بېلا بېلو ګڼو چاپ شوي دي. چې دا جلا ځان ته د یوې اوږدې مقالې مواد دي. دلته له دې دوو مجلو ډډه کوو او صرف ادب موضوعاتو ته ځانګړې ګڼې په ترتیب سره راوړو.

## علامه عبدالعلي اخونزاده ته ځانګړې ګڼه

یوه مجله د سهېلي پښتونخوا د جدید دور ځلاند ستوري او د خانوزي د سیمې لوی عالم او لیکوال علامه عبدالعلي اخونزاده شخصیت او ادبي هلو ځلو ته ځانګړې ده. او د دغې مجلې له اداریو معلومېږي چې د علامه عبدالعلي اخونزاده په یاد کښې د بزم ثقافت له خوا دستوره ترتیب شوې ده او په هغه دستوره کښې چې کوم مضامین او شعري پیرزوینې وړاندې شوې دي، هغو ته د اولس ترتیب وار مجله یوه ګڼه ځانګړې شوې ده. د دغې مجلې په اړه امیر عثمان لیکي:

"د دې موقعې دپاره مونږ د علامه مرحوم د کلام ترجمې په مقامي ژبو یعني پښتو، بلوڅې، او براهوي کښې پېش کوو، له دې نه علاوه هر کال مونږ د علامه مرحوم د تلنې د ورځې دستوره کوو دا زمونږ خوش قسمتي ده چې هغه کسان چې د علامه مرحوم سره یو ځای پاتې شوي دي هغوی بقید حیات دي او هغوی مونږ سره په دې کښې پوره پوره مرسته کوي. زمونږ دا هم اراده ده چې د علامه مرحوم مکمل دیوان چاپ کړو"(6).

د اولس په بېلا بېلو مجلو کښې په علامه صاحب باندې نور هم شپږ مضامین چاپ شوي دي چې درې په کښې د صاحبزاده حمید الله دي، یو د مرزاخان پېښي یو د فضل احمد غازي مضمون دی، په خصوصي ګڼه کښې یوه برخه د مضامینو ده چې د علامه صاحب د ژوند، او فن هر اړخیزې څېړنې په کښې موجودې دي، په دویمه برخه کښې د بېلابېلو شاعرانو علامه صاحب ته شعري پیرزوینې وړاندې شوې دي. په مضامینو کښې د ډاکټر نورالحق، مولاداد او صاحبزاده حمید الله مضامین چاپ دي او په پیرزوینو کښې د قاضي سعید، عبداللطیف شاداني، محمد رسول فریادي، مولوي عبدالخیر، بلال احمد ملال، قاضي نور الحق خان، عبدالقدوس، صاحبزاده حمید الله، ماهر افغاني، عبدالخالق خا، جان محمد سېلاني او غلام نبي مهترزي کلامونه موجود دي. د علامه صاحب دا لوی او قدآور شخصیت ته دومره وړه چې په څو صفحو مشتمله مجله ده زما په خیال د علامه صاحب په اړه هم د هغه دور او هم د راتلونکو نسلونو تنده

د هغو د ټولو معلوماتو په اړه نۀ شي ماتولی البته که د امیر عثمان د سریزې په خبره عمل شوی وای نو عین ممکنه ده چې د علامه صاحب دا هر اړخیز سره خپور ژوند او خدمات یې په بشپړه توګه معارفي کړې وای خو له بده مرغه دغسې نۀ دي شوي. امیر عثمان په سریزه کښې لیکلي وو چې هر کال به مونږ د علامه د تلین په مناسبت داسې دستورې کوو خو له دې دستورې وروسته د بلې کومې داسې دستورې ذکر د اولس په پاڼو کښې چرې هم نۀ شته. که دغه سلسله دغسې پر مخ تللې وای نو د عبدالعلي اخونزاده او نورو شخصیاتو په اړه ډېر معلومات د محققینو مخې ته راتلی شو ځکه چې دا هغه زمانه وه چې ډېر سپین ږیري موجود وو د هغو له ذهنونو څخه د نوو خبرو را ایستلو زیات ګنجائش ؤ خو و نۀ شو.

## پوَندهګانو ته ځانګړې ګڼه

دغه مختصره غونډې ګڼه د هغو پوندګانو دپاره چاپ شوې ده کوم چې له هرې خوا پاکستان ته راغلي وو یا یې راتلل غوښت، د هغو پوندګانو دپاره د رهنمائي او ملکي او بین المللي اصولو ښوونه شوې ده چې په عملي کولو سره یې د دواړو هیوادونو د انسانانو اخلاقي، ټولنیزې او تهذیبي ګټې لاس ته راتلی شوې، په دغه مجله کښې شپږ اوږدۀ او لنډ مضامین په پښتو کښې چاپ شوي دي او درې مضامین په بلوڅي ژبه کښې چاپ دي او دواړو ژبو ته یوه ګڼه ځانګړې شوې ده. د پښتو لومړی مضمون تر "پونده ګانو دپاره هدایات" د خپرندویې ادارې له خوا لیکل شوی دی، دوېم مضمون "مونږ او پاونده" د درمحمد اخکزي دی چې د پاکستان او پاکستان د ګډ ژوند کولو په اړه خصوصاً له افغانستانه د خلقو د راتګ په اصولو خبره شوې ده او یو له بل سره د مرستې او کومك غوښتنه شوې ده، درېم مضمون هم د خپرندویې ادارې له خوا لیکل شوی دی چې پونده ګانو ته د بین الاقوامي اصولو په رڼا کښې د راتګ خبره شوې ده او هغه څۀ چې د یو انسان له یوۀ هیواد څخه بل هیواد ته د تللو په وخت کښې ضروري پابندیانې وي د هغو د خیال ساتلو خبره شوې ده. درېم مضمون د ابو الفرید صابري په نامه د پونده او تذکره تر سرلیك لاندې چاپ شوی دی، چې پونده باید د راتګ په وخت کښې یا تذکره ولري او یا پاسپورټ ورسره وي، ځکه چې د دوی په هسې راتګ سره وایي چې د ډېرو ستونزو پېښېدلو امکان شته. بل مضمون د قانون احترام تر سرلیك لاندې بیا د خپرندویې ادارې له خوا چاپ شوی دی، شپږم مضمون مختصر دی او تر دې سرلیك لاندې چاپ شوی دی چې پونده ګان پاکستان ته څنګه راتلی شي او پونده ګانو ته یې د بین الاقوامي اصولو په رڼا کښې د راتلو هدایات کړې دي. او د بلوڅي ژبې مضامین تر "پهوالان ګوش دارایت" سر لیك لاندې یو مضمون د اولس خپرندویې ادارې له خوا چاپ شوی دی، دوېم د "هل جزاء الاحسان الا الاحسان" تر سرلیك لاندې د جمال سنجراني په نامه

چاپ شوی دی، دریم لنډی مضمون د خپرندویې ادارې له خوا تر "پهوالاني گروجل" سرليك لاندې چاپ شوی دی.

## (2) ادبي اصنافو ته ځانګړې ګڼې

څومره به ښۀ وای چې د عبدالعلي اخونزاده دپاره د ځانګړې مجلې غوندې ادبي اصنافو ته هم خصوصاً غزل، نظم، ډرامه، افسانه او داسې نورو اصنافو ته مجلې ځانګړې شوې وای خو په دې اړه ميدان بلکل خالي پاته شوی دی. البته په وړۀ کچه کښې د اولس له بېلابېلو ګڼو څخه چونړ شوي مضامين له ځينو نورو اضافو مضامينو سره چاپ شوي دي او د ډرامې په اړه يو کتاب چې د عبدالقدوس دراني دی د هغه قسط وار ډرامه يې ټوله يو ځای په کتابي بڼه کښې چاپ کړې ده.

## ځولۍ ګلونه

وړومبی کتاب چې د ځولۍ ګلونه په نامه د اولس له خپرندويې ادارې څخه د مئ په مياشت په کال 1970ء کښې چاپ شوی دی، چې په کښې تر بېلابېلو عنوانونو لاندې د بېلابېلو شاعرانو د کلامونو نمونې په کښې دي، او دغو فکري شاعرانو په کښې د خپل ذهني سوچ او فکر سره سم شعرونه ويلي دي. ازادي، ستر مشران، د وطن مينه، پاکستان ورونه، قبايلو د هسکو غرونو، د حق او باطل ډغره، اې وروره زميندارهّ او احساسات په دغو عنوانو باندې شاعري په کښې چاپ شوې ده. تر وړومبي عنوان لاندې چې کومو شاعرانو شعرونه ويلي دي د هغو د کلام نمونې:

د رازونــو خزانــه د وختونــو پــه ســينه کښــې :: وېرونکــی شــان تصــوير يــم د تــاريخ پــه آئينــه کښــې
"زۀ چې څنګه تل ژوندی يم شين نښان به تل ژوندی وي :: سم زما سره تاريخ کښې پاکستان به تل ژوندی وي"(7)
(افضل رضا)

"ګـل و ګلـزار بـه شـي وطـن زمـونږ پـه همـت اولسـه! :: کـه پـه رښـتيا سـره مـو وکـړو څـۀ خـدمت اولسـه!
خورمـه قسـم د پـاکې خـاورې پـه عظمـت اولسـه! :: پورتـه بـه کـړم خپـل پـه دنيـا شـان و شـوکت اولسـه!
د اتحـاد بيـرغ بـه زر د مسـلمان پورتـه کـړم :: پـه کـل جهـان بانـدې بـه شـان د پاکسـتان پورتـه کـړم"(8).
(محمد رسول فريادي)

"چمـن کښـې بلبلانـو د خوشـۍ نغمـې کـړې پورتـه :: ګـلان چـې مـړغجن وو ازادۍ تـه پـه خنـدا شـول
يـو کيـف ؤ چـې طـاري شـۀ د تقـدير پـه ميکـده کښـې :: دا څـۀ دي اې يـارانو زمـونږ زړونـه هـم رڼـا شـول"(9)
(هامد)

تر پورتني عنوان لاندې ټوله داسې شاعري شوې ده له وطن سره تعلق لري، په شعري اصطلاح کښې مونږ ورته ملي شاعري وايو، له دې شاعرانو وروسته محمد اسلام اجملي، وحيد ګل وحيد، عبدالحق نسيم، سرورر سودائي د خپل وطن دپاره له سوزه او درده ډک شعرونه ويلي دي

د وطن هرڅۀ یې ستایلي دي او په داسې قامي جذبه یې د خپل مافی الضمیر اظهار کړی دی چې په هر وخت کښې په اورېدونکو کښې نوې جذبه پیدا کوي.

په دوېم عنوان کښې هم ډېرو اهمو شاعرانو شعرونه ویلي دي چې قامي مشرانو ته په کښې د ستاینې ډك کلامونه وړاندې شوي دي. په دغو اهمو شاعرانو کښې د قائد اعظم روح ته یوه خوندوره د شعر په ژبه کښې داسې ډالۍ وړاندې کوي:

"لکه شمع دې ځان وسو تور وطن دې پرې روښان کړو :: خپل هډونه دې اوبۀ کړل تا سمسور پرې ګلستان کړو
د بلا کومې تـه تللې را ژوندی دې مسلمان کـړو : چـې دې اووې پاکستان دی پـه رښتیا دې پاکستان کـړو
د همـت مـلا مـو تړلـې ستا عمـل راتـه مثـال دی :: د تیـارو نـۀ یرېـږو سـتا ژونـدون راتـه مشـال دی"(10).
(اجمل خټك)

"خـــــورږ وطـــــن مـــــو پاکســـــتان دی :: ســـــبزه زاره ګلســـــتان دی
زمـــــونږ زړۀ دی زمـــــونږ ځـــــان دی :: زمـــــونږ آن دی زمـــــونږ شـــــان دی
برکـــــت ســـــتا د خواریـــــو :: پاکســـــتان دی پاکســـــتان دی
زمـــــونږ مشـــــره! قدرمنـــــه :: اې قائـــــده! ســـــتا مننـــــه"(11).

(غازي سیال)

"شـبه و روز چـې عظمتونـه یـې طـواف کـړي :: دا مـزار زمـونږ د لـوی قائـد مـزار دی
رفعتونه سجده رېز دلته ښکارېږي :: پـه دې ځـای کښـې پـروت د پـاك وطـن معمـار دی
په دې خاورو کښې یو داسې ګوهر پروت دی :: چـې انـداز یـې د قیمت لګېـدی نـۀ شـي
دا د دغسـې ښـاغلي قیـام ګـاه دی :: چـې انـداز یـې د همـت لګېـدای نـۀ شـي"(12).
(طاهر کلاچوي)

له دې وروسته افضل رضا او شېر محمد مینوش د شهید ملت او اقبال ته خطاب تر سرلیك لاندې نظمونه لیکلي دي، لکه چې یو نظم لیاقت علي خان ته دی او دوېم علامه اقبال ته دی، د شهید ملت په نامه چې په اولس مجله کښې څومره مضامین راغلي دي یا شاعري چاپ شوې ده په ټولو کښې له شهید ملت څخه لیاقت علي خان مراد اخستل شوی دی. ورپسې شېرمحمد مینوش علامه اقبال ته داسې القاب او خطابات ورکړي دي چې په حقیقت کښې هم علامه اقبال د دې حقدار ؤ. له دې وروسته "د وطن مینه" تر سرلیك لاندې د بېلا بېلو شاعرانو د کلامونو نمونې راغلي دي چې په کښې وړومبی شاعر داسې خپلې خاورې ته مخاطب دی:

"خاورې د وطن مې راته ګرانې له خپل سره دي :: زیاتې په قیمت کښې د لعلونو او ګوهره دي
خاورې به وې چا ته ما ته ښې له سیم و زره دي :: خوښ به د چا زر وي ما ته دا له هرڅۀ غوره دي
دا زما وطن دی زۀ د دۀ یو خدمتګار یم :: زۀ د خپل وطن هر یو خدمت ته تل تیار یم"(13).
(عبدالله جان اسیر)

"مزکـــــه د وطـــــن مـــــي مـــــور :: زهٔ يـــــې حـــــلال زوی يمـــــه
کړمـــــه بـــــه خـــــدمت يـــــې تـــــل :: څـــــو چـــــې زهٔ ژونـــــدی يمـــــه

مـــــال و ســـــر مـــــي زار لـــــه دې :: ځـــــوان زهٔ ميړنـــــی يمـــــه
زهٔ پاکســـــتانی يمـــــه :: زهٔ پاکســـــتانی يمـــــه"(14)

(محمد قاسم مظهر)

تر دې سرليك لاندې چې له خپلې خاورې سره د عقيدت اظهار وکړي او د خپلې خاورې ټول کمالات او ښهٔ اوصاف د شعرونو زينت وګرځوي نورو هم لکه داور خان داود، نعمت الله اسير شنواري، دين محمد افغاني، صاحبزاده حميد الله، مير احمد کمال، خيال مير خيالي، فريد الله فريد، عبدالخالق تارن او سرور سودائي شعرونه ويلي دي. او ورپسې "د وطن وروڼه" تر سرليك لاندې عظيم خان عظيم، سيد امير سرحدي، ورشاهجان انور، محمد قاسم مظهر او م، د ختك ډېر خوندور او خوارهٔ شعرونه د عقيدت په توګه د وطن وروڼو ته وړاندې کړي دي.

دغسې د "قبايل د هسکو غرونو" تر سرليك لاندې سيد عابد شاه عابد، محمد اسلام اجملي، خيال وزير، محمد رؤف نګار، حامد خان حامد د وطن بېلابېلې سيمې او له هغو سره د مينې او ټينګې رشتې خبرې کړې دي. او قبايلو ته يې د هر ډول مرستې او خواخوږي ډاډ ورکړی دی.

د "د حق او باطل ډغره" تر عنوان لاندې مختار احمد زاهد، ظهير ياغي بندي، سيد اکبر صابر، هامد هارون هامد مجبور سوراني، رب نواز مائل، ايم رضا مهمندي، سيد اکبر، سليم خان سليم، اکل اسد ابادي او خيال مير خيال په بېلا بېلو وختونو کښې د پېښې شوو واقعاتو لکه شپږم ستمبر، انتقام، پت، د مسلمان جذبه، د مسلمان توره، بلې ډيوې، د مجاهد نعره، د مجاهد ارمان، د کشمير زلمي ته، بادامی باغ سرينګر او کشمير ته خطاب په موضوعاتو داسې له جذباتو ډك شعرونه ويلي دي چې په هر وخت کښې له غليمه د انتقام اخستلو او خپل وطن ته خصوصاً کشمير ته داسې شعرونه ويلي دي چې د خپلې وينې د نذرانې پېشولو اطمينان او ډاډ يې وطن ته ورکړی دی.

د وروستي سرليك "اې وروره زميندار!" لاندې داسې له خونده ډك د مزدور په حق کښې شعرونه ويلي دي چې دلته په نمونو ورکولو کښې تاسې محسوسولی شئ چې د مېکسم ګورکي د يوې اهمې نظريې خبره کوي:

"ځـــــئ چـــــې دهقانـــــانو ژونـــــد لـــــه غـــــاړوزو ژونـــــدون وکـــــړو
ځـــــئ چـــــې ټـــــول همـــــت همـــــت شـــــو ځـــــئ چـــــې دا تـــــړون وکـــــړو

ځـــئ چـــې غلـــې وکـــړو د ملـــك لـــرې تنګـــي کـــړو مـــونږ
للمـــې مزکـــې ســـمې کـــړو پـــه ځـــان تېـــره ســـختي کـــړو مـــونږ
خپلـــه پـــه همـــت چـــې د غلـــې پـــوره کمـــي کـــړو مـــونږ
ښـــکلې زنـــدګي مـــو پـــه معنـــی کښـــې زنـــدګي کـــړو مـــونږ
ځـــئ چـــې متـــې و نغـــاړو د دې قیصـــې لنـــډون وکـــړو
ځـــئ چـــې ټـــول همـــت همـــت شـــو ځـــئ چـــې دا تـــړون وکـــړو"(15)
(غازي سیال)

"فـــرض د خـــدمت دی نـــن پـــوره کـــړه قـــوم دپـــاره :: اې وروره زمینـــداره!
را ویښ شه دا دې وخت دی
پـــه نـــوي عـــزم قـــدم بـــره کـــړه قـــدم د ملـــك دپـــاره اې وروره زمینـــداره!
نن قوم ته ستا حاجت دی"(16). (ابم رضا مهمندي)

"را ویښ شـه زمینـداره! تـه بسـته دې خپـل کمـر کـړه :: پیـدا لـه مزکـې زر کـړه
کـړه هـوش دې را بیـدار :: د جـوش نـه واخلـه کـار :: هرڅـۀ دې کـړه تیـار
همـت کـړه شـه نامـدار :: ویښ اوسـه غافـل نـۀ شـې د جنـت د مېـور کـر کـړه
پیدا له مزکې زر کړه

دغسې د یوۀ بل ښکلي شاعر نادر خان بزمي د نظم نمونه وګورئ:

"راځئ چې وکړو یـو تـر بلـه د امـداد خبـرې :: د کرکیلـې او د معـاش د خپـل هیـواد خبـرې
هېـرې کـړو هېـرې د مجنـون او د فرهـاد خبـرې :: د میخـانې سـاقي بلبـل او د صـیاد خبـرې
جرس غږېږي تـه ویـدۀ یـې قاضـي لېږدي :: د چـا د تـګ نـه پـاس لـه یرې سـتار رېږدي"(17)
(نادرخان بزمي)

"تـــه د قـــام دپـــاره یـــې رحمـــت د کردګـــاره:: جـــار شـــم زمینـــداره!
مـــونږ پـــه خـــوب ویـــدۀ او تـــۀ روان پـــه شـــنۀ ســـهاره :: جـــار شـــم زمینـــداره!
تـــۀ پـــه ســـرو غرمـــو کښـــې ټپرانـــد تـــل د اهـــاږ یـــې :: لـــو کـــوې ولاړ یـــې
مـونږ ناسـت یـو سـایو کښـې تـه خولـو کښـې غـرق یـې یـاره :: جـار سـم زمینـداره!
وخـت چـې د کرهڼـې شـي اوبـۀ لـرې څلـو کښـې :: یخـو تـورو شـپو کښـې
بـاك لـه یخـه نـۀ کـړې لـه تیـار نـۀ یـې پـه ډاره :: جـار شـم زمینـداره!"(18)
(ابوالخیر ځلاند)

دغسې د ابو الخیر ځلاند دغه نظم ښۀ ډېر اوږد کړی دی، چې خپل یو جلا خوند لري، د سندرې په انداز کښې یې یو نظم ته ډېر له خونده او ترنمه ډك بحر ټاکلی دی.

له دغو حوالو وروسته وروستی سرلیك دی د "احساسات" په نامه په دغه برخه کښې شاعرانو د شاعر ذمه واري او شاعرانو ته د قام ویښ خلق ویل شوي دي او له دوی څخه د ښو هېلو څرګندونه شوې ده چې سید ن، م باچا، ګوهر رحما ګوهر، سعید ګوهر تېراهوي، محمد اسلام ارماني، محمد

نواز خټک، ظهیر یاغي بندي او شبیر محمد مینوش په کښې د شاعري نیلی زغلولی دی او شاعر ته یې د دانشور خطاب ورکړی دی او افکارو ته یې قامي پنګه، نغمې یې د قام دولت، نیاز او راز یې او شعري اشارات او کنایات یې د ملت او قام دپاره یوه اهمه عطا ګڼلې ده.

## انتخاب

دوېم ځانګړی کتاب د "انتخاب" په نامه د بېلابېلو لیکوالانو په هغو مضامینو مشتمل دی کوم مضامین چې وخت په وخت په اولس میاشتنۍ مجله کښې چاپ شوي دي. او د دغه کتاب په کړۀ وړۀ کښې د 1963ء د اولس خصوصي ګڼې غوندې دي، د نذیر خیال له سریزې، د رحمان بابا له حمد او د شمس الدین کاکړ له نعت وروسته له بېلابېلو عنوانو سره سم منتخب مضامین چوڼ شوي دي لکه "مونږ او اسلام، پاکستان، قائد اعظم، کوټه، ادب، قبایل، شخصیات. خو دغه ټول مضامین په اولس مجله کښې چاپ شوي دي، د پېغمبرﷺ په سیرت باندې چې د "محمدﷺ" تر سرلیک لاندې د قاضي عبدالسلام کوم مضمون چاپ شوی دی هم دغه مضمون کټ مټ د جولائي 1964ء په اولس مجله کښې هم د قاضي عبدالسلام له خوا چاپ شوی دی. په کتاب کښې د "رڼا" تر سرلیک لاندې د صاحبزاده حمید الله مضمون چاپ شوی دی هم دغه مضمون د دسمبر 1976ء په ګڼه کښې چاپ شوی دی. په کتاب کښې د "کوئټه او قلات کښې د اسلام رڼا" تر سرلیک لاندې چې په کتاب کښې د دین محمد افغاني کوم مضمون چاپ شوی دی هم دغه مضمون د ستمبر/ اکتوبر 1968ء په مجله کښې چاپ دی. او د "اسلام او اتحاد" تر سرلیک لاندې په کتاب کښې د محمد عبدالقدوس مضمون چاپ شوی دی، چې د مجلې د اکتوبر/ نومبر 1967ء په ګڼه کښې چاپ شوی دی. دغسې د "پاکستان د تاریخ په رڼا کښې" چې په کتاب کښې کوم مضمون د عبدالکافي ادیب چاپ دی هم دغه مضمون په مجله کښې په جولائي 1962ء کښې چاپ شوی دی. د "اقبال او ازادي" تر سرلیک لاندې د عبدالسلام دراني مضمون چاپ شوی دی چې په مجله کښې د اګست په میاشت کښې په کال 1966ء کښې چاپ شوی دی. او د "ازادي او بلوچستان" تر سرلیک لاندې د فضل احمد غازي کوم مضمون چاپ شوی دی هم دغه مضمون په مجله کښې په اګست 1981ء کښې چاپ دی. د "قرارداد پاکستان" تر سرلیک لاندې د عزت نیازي کوم مضمون چې په کتاب کښې چاپ دی هم دغه مضمون د مارچ په میاشت کښې په کال 1965ء کښې په مجله کښې هم چاپ دی. دغسې د حمزه شینواري مضمون "قائد اعظم او پاکستان" په نامه چاپ په کتاب کښې چاپ شوی دی چې په مجله کښې په ستمبر 1964ء کښې چاپ شوی دی. د قاضي محمد عیسیٰ خان مضمون د "قائد اعظم او بلوچستان" تر سرلیک لاندې په کتاب کښې او په اګست/ ستمبر 1975ء کښې په مجله کښې چاپ دی. د "کوټې تاریخي جغرافیه" تر سرلیک لاندې

د سلطان محمد پاني مضمون په کتاب کښې او دغه مضمون په مجله کښې د اکتوبر/ نومبر 1963ء په ګڼه کښې چاپ شوی دی. عمرګل عسکر مضمون د "معدني دولت" په نامه په کتاب کښې او دغه مضمون په مجله کښې په اکتوبر / نومبر 1969ء کښې هم چاپ شوی دی. دغسې د سلطان محمد صابر مضمون د "په بلوچستان کښې د ادب رفتار" په نامه په کتاب کښې چې کوم مضمون موجود دی همدغه مضمون د اکتوبر/ نومبر 1967ء په مجله کښې هم چاپ شوی دی. دغسې د اياز داودزي مضمون د "ادب اولس او حکومت" تر سرليك لاندې په کتاب کښې او بيا دغه مضمون په مجله کښې په فروري 1962ء کښې هم چاپ دی. "کاکړيو غاړو ته يوه کتنه" د پروفيسر پوهاند سيال کاکړ مضمون په کتاب کښې او بيا په مجله کښې په جون 1968ء کښې کټ مټ دغسې چاپ شوی دی. د انعام الحق کوثر مضمون "شالکوټ او ارد" په کتاب کښې بيا په اکتوبر/ نومبر 1969ء کښې په مجله کښې چاپ شوی دی. دغسې د "پښتنائۀ قبايل" تر سرليك لاندې د سيد عابد شاه عابد مضمون په کتاب کښې موجود دی چې هم دغه مضمون په مجله کښې د اکتوبر/ نومبر مياشت په کال 1963ء کښې چاپ شوی دی. د "کاکړ" ترسرليك لاندې د ګل محمد کاکړ مضمون په کتاب کښې بيا په مجله کښې په اکتوبر/ نومبر 1969ء کښې چاپ شوی دی. د فضل احمد غازي مضمون "اقبال" په اکتوبر 1985ء د حمزه شينواري مضمون "خوشحال خان خټك" د جون 1968ء، د عبدالرؤف نوشهروي مضمون "شاه عبداللطيف بټهائي" د جنوري 1964ء په مجله کښې، د "نذر الاسلام" تر سرليك لاندې د فضل احمد غازي مضمون په جون 1964ء مجله کښې چاپ شوی دی. وروستي دوه مضمونونه د فضل احمد غازي او ولي محمد سيال کاکړ چې لومړی په جوانسال بګټي دی او دوېم په پير محمد کاکړ دی. دغه مضامين په اولس مجلو کښې نۀ دي چاپ شوي.

په پورتنيو مضامينو کښې چې لومړی مضمون د قاضي عبدالسلام چاپ شوی دی، په هغه کښې يې د پېغمبرﷺ په سيرت او صورت دواړو د حديثونو په رڼا کښې بحث کړی دی او د پېغمبرﷺ په اخلاقو، سخا، شفقت، عدل او انصاف، اتلوالي، حيا او عفت، تواضع، برداشت، صبر او حلم باندې تفصيلي بحث کړی دی خو يو ځای ليکي:

"د عيسیٰ عليه السلام نه 750 کاله پس چې وحدانيت بلکل هېر شوی ؤ او صحيح هدايت له دنيا نه بلکل ناپيد شوی ؤ، الله تعالیٰ ته دا منظوره شوه چې هغه بشر چې په اولاد د حضرت آدم کښې د آدم نه تر قيامته پورې د مودې نه پس هر حق له بې مثله بې مثاله کمال انسانيت يوه نمونه ده، د مخلوقاتو بهترين، د ښايستو ښايسته او د پورۀ وو پوره دنيا ته را ولېږلو"(19).

د تقويم په اړه ټول تقويمونه دا مني چې د عيسیٰ عليه السلام او پېغمبرﷺ تر مينځ شپږ سوه شل (620) شا و خوا کلونه فاصله موجوده ده، ځکه چې مونږ اوس هم کله له هجري تاريخ څخه عيسوي

تاريخ جوړوو نو شپږ سوه شل (620) کاله د فارمولې مطابق پسې جمع کوو نو بيا عيسوي نېټه ځنې جوړيږي دا ځکه چې عيسٰیؑ تر پېغمبرﷺ شپږ سوه شل کاله له مخه تېر شوی ؤ، اوس که د حوالې سره سم 750 کاله فرق راشي نو بيا به مونږ هجري تاريخ ته 750 کاله وراچوو نو به عيسوي تاريخ ځنې جوړيږي، مګر اوس مونږ وينو چې هجري تاريخ 1396هجري روان دی، که اوس دې ته 750 کاله نور ورجمع کړې نو به اوس عيسوي تاريخ 2126ء کال جوړ شي او حال دا چې اوس 2016م عيسوي کال روان دی، او که 1396ھ ته 620 کاله نور وروا چوو نو بيا اوسنی 2016عيسوي تاريخ ځنې جوړيږي نو له دې معلومه شوه چې د عيسٰیؑ او پېغمبرﷺ تر منځ 750 کاله فاصله نهٔ بلکې 620 کاله فاصله موجوده وه.

په دويم مضمون کښې صاحبزاده حميد الله د ادم عليه السلام د پيدائش ذکر کړی دی او بيا يې د هغهٔ په ژوند لنډه تبصره کړې ده وروسته يې د نوح عليه السلام ذکر کړی دی بيا حالات خراب شوي دي د پېغمبرﷺ د راتلو ضرورت پېښ شوی دی او د پېغمبرﷺ په مکې او نور ژوند يې رڼا اچولې ده. د ادمؑ له جنتي ژوند سره يې يوه خبره يې دا کړې ده چې:

"ادمؑ په جنت کښې اوسي او هر راحت ورته موجود دی نهٔ غم شته نهٔ خوابدي، نهٔ رنځ شته نهٔ ناجوړي، شيطان خو خپل ټك اخيست نو د جنت دروازې له ورغی، مار او سېمرغ يې هم کومکيان وو. ادمؑ ته يې په قسم وويل چې د دغه درختې (غنم يا انګور مېوه وخورئ دواړه به ملايکې شئ"(20).

په دې کښې هيڅ شك نهٔ شته چې چې دوی د جنت له يوې ونې خوراك وکړ او دا چې د دوی کومك سېمرغ او مار وکړ، په قرآن کريم کښې يوازې د شيطان ذکر راغلی دی، په ځينو تفسيرونو کښې د مار ذکر هم ورسره راغلی دی خو دغه د سېمرغ خبره خبر نهٔ يم چې له کومې حوالې ثابت دی. په تفسير مدارك او تفسير يسير کښې د مار ذکر شته خو د سېمرغ ذکر نهٔ شته، عين ممکنه ده چې ځينو تفسيرونو راوړی وي خو په قرآن کريم کښې مطلق ذکر راغلی دی او صاحبزاده حميد الله يې هم حواله نهٔ ده ورکړې. تفسير مدارك په دې اړه ليکي:

"ای عن الشجرة، ای فحملهما الشيطان علی الزلة بسببها، و تحقيقه فاصدر الشيطان زلتها عنها او فازلهما عن الجنة بمعنٰی اذهبهما عنها... و روی انه اراد الدخول فمنعته الخزنة فدخل فی فم الحية حتٰی دخلت به. و قيل قام عند الباب فنادٰی"(21).

ترجمه: (يعني له ونې لرې اوسئ، نو شيطان دوی وروستل، ځکه چې د دوی په سبب شيطان تړټل شوی ؤ، نو شيطان د حضرت هوا په شويولو کښې بريالی شو او دواړه يې له جنته را واېستل، يعني دوی يې له جنته بوتلل، په يوه روايت کښې راځي چې شيطان جنت ته د داخلېدو

اراده وکړه نو دی له جنته منع کړ، بیا دی د مار په خولهٔ کښې دننه شو او جنت ته دننه ولاړ او ځنې وایي چې د جنت له ورهٔ سره نژدې ودرېدهٔ).

په دې تفسیر کښې یوازې د مار ذکر راغلی دی او هغه هم د یوهٔ روایت خبره کوي او د روایت هیڅ حواله ورسره نهٔ شته. دغسې په تفسیر یسیر کښې راځي:

"فازلهماالشیطٰن پس ولغزول دواړه شیطان، عنها له دې جنته، فاخرجهما پس را یې وستل دواړه مماکانا فیه، له هغه معاش چې ؤ دوی په هغه کښې"(22).

په دغه تفسیر باندې یوه حاشیه لګېدلې ده: "له دې جنته یا معنٰی دا چې په سبب د هغې ونې سره یعني و یې لغزول او هغه ونه یې پرې وخوړله"(23).

د دغه تفسیر له حوالې او حاشیې دواړو معلومیږي چې شیطان خپله دوی ولغزول او هیڅ د مار او سیمرغ ذکر ورسره نهٔ دی راغلی. په قرآن کریم کښې مطلق د ونې ذکر راغلی دی دا نهٔ ده معلومه چې د غنم دانه وه که د انګورو دانه وه، خو د دوی د خوارېدو سبب ضرور جوړه شوه. له دې تفصیله مقصد دا دی چې دغسې حوالې د داسې اهمې څېړنې دپاره ډېرې ضروري دي، که حوالې نهٔ وي نو په د تحقیقي اصولو په رڼا کښې په کښې د ډېر اختلاف ګنجائش هر وخت موجود وي.

د "کوئټه او قلات کښې د اسلام رڼا" تر عنوان لاندې د سهېلي پښتونخوا (بلوچستان) د درو مشهورو قبیلو لکه براهوي، پښتانهٔ او بلوڅانو ذکر یې کړی دی د براهوي او بلوڅانو په اړه خبرهٔ نهٔ کوم خو د پښتنو په اړه یې لیکلي دي چې پښتنو تر اسلام له مخه هم د اسلامي تعلیماتو غوندې ژوند کاوهٔ، ځکه دی وایي چې پښتانهٔ نسلاً هم د حضرت سلیمان﷤ اولاد دی چې د دوی یو مشر قیس عبدالرشید ؤ او د پښتنو وضاحت یې په بني اسرائیلو سره کړی دی او لیکي:

"قدیم قوم پښتون دی، دا د آریه یوه قبیله وه چې د پکت په نامه یادېدله، دوی د روب جنوبي آریاه او ګندهار (قندهار) او غزني څخه تر غوره پورې پراتهٔ وو. د نوشېروان عادل په دور حکومت کښې د بلوچستان چې هغه وخت د جنوبي سندهـ په نامه یادېدله، د یو باچا نوم یې روبین یاد شوی دی. مؤرخي وایي چې دې خلقو خولې تړلې وې، مولونه به یې وهلي وو... دوی د جي مت منونکي وو، د دروغو او غلا څخه به یې ځان ساتۀ، د قتل و غارتګرۍ قائل نهٔ وو، دوی د پاك روحانیت قائل وو، سپینې جامې به یې اغوستلې د ښځو سره به یې د ګډون او په ګډه نڅا کوله، کوم وخت چې بخت نصر په بابل حمله وکړه او بني اسرائیل یې د بابل څخه وشړل نو دوی هم د بلوچستان په خوا راغلو، او مولا سندهـ په غاړه هندوستان ته را داخل شول او څهٔ د روب خوا ته ولاړل... کوم وخت چې د فاران د څوکو څهٔ د نبوت نمر را ښکاره شو او د بي اخیر زمان ﷺ د نبوت او رسالت غږ پورته شو تر دا وخته پښتانهٔ (بني اسرائیل) هم تر کوه سلیمان پورې خپارهٔ شوي وو"(24).

د شلمې پېړۍ له اوايلو چې د پښتنو په اړه د جديدو تحقيقي اصولو په رڼا کښې کومې څېړنې شوې دي د دين محمد افغاني د مضمون پيل ډېر ښهٔ شوی دی، خو وروسته يې بيا مضمون سره ګډ وډ شوی دی، په لومړي سر کښې يې له مضمونه معلومېږي چې پښتانۀ آرين بولي خو وروسته يې بېرته د بني اسرائيلو د نظريې په خوا توجه زياته شوې ده، او ځای په ځای داسې هم وايي چې بني اسرائيل وروسته د بخت نصر له حملې سره د سندهـ او ږوب په خوا راغلي دي، له دې معلومېږي چې پښتانۀ پخوا لا په آريانۀ کښې موجود وو، خو وروسته بيا د قېس عبدالرشيد له دريو زامنو د ټولو پښتنو نسب ثابتوي چې دا دوې متضاد خبرې دي او په دې باندې په درېم باب کښې په تفصيل بحث شوی دی. هلته رجوع په کار ده چې له تکراره ځان وساتو.

محمد عبدالقدوس د "اسلام او اتحاد" تر عنوان لاندې د اسلامي تعليماتو په حواله بحث کړی دی ورپسې د اسلام په بنيادي ارکانو رڼغېدلی دی، بيا په په څو مسلمانو مفکرينو د هغوی د نظرياتو او عملي ژوند لنډه خاکه يې وړاندې کړې ده، ورپسې يې په اسلامي ټولنه کښې د رعيت ذمه داري او د حاکم ذمه داري په ګوته کړې ده چې په هر لحاظ په اصلاحي او اخلاقي دواړو اړخونو مشتمل مضمون دی.

دغسې د عبد الکافي اديب، عبدالسلام دراني، فضل احمد غازي، عزت نيازي، حمزه شينواري او قاضي محمد عيسیٰ داسې مضامين دي چې د پاکستان د جوړېدو له هلو ځلو بيا چې پاکستان جوړ شو او شل کلنه دوره يې په ښهٔ توګه د تاريخي حقائقو او واقعاتو په خوږو او نادرو معلوماتو بحث کړی دی. عبدالکافي اديب د پاکستان د جوړېدو له مخه دوه سوه کلنه سياسي دوره څېړلې ده د اورنګ زېب مغلي باچا له حکومت کولو وروسته د ايسټ انډيا کمپنۍ په راتګ او د انګرېزانو د مسلط کېدو په وخت يې د حيدر علي او د هغۀ په زوی ټيپو سلطان يې د مظالمو ذکر کړی دی، د سيد احمد برېلوي د شهادت سره د مسلمانانو بيا متحد کېدل او د انګرېزانو خلاف د ازادۍ جنګ شروع کول يې په ښهٔ خوندوره توګه ذکر کړی دی.

عبدالسلام دراني د علامه اقبال په اړه له معلوماتو ډك مضمون ليکلی دی او چې د پاکستان په ازادۍ کښې د علامه اقبال کوم رول ؤ د هغۀ مقصد يې داسې بيان کړی دی:

"د علامه اقبال په شاعرۍ چې مونږ ښهٔ غور فکر وکړو نو له سره تر پايه يې يکي يو مقصد په مخه اخستی دی او هغه د مسلماانو بيداري او هغو ته خپل عظمت رفته يادول دي"(25).

دغسې يې د علامه اقبال په سياسي ژوند رڼا اچولې ده او تر وروستۍ نېټې چې له دنيا يې کوچ کړی دی، هغه ټول حالات يې په ډېره لنډه توګه وړاندې کړي دي.

فضل احمد غازي د بلوچستان د هغه وخت سياسي نقشه په لنډه توګه وړاندې کړې ده او کومو کسانو چې د ازادۍ په تحريك کښې کردار لوبولوی دی د هغو ذکر يې کړی دی:

"د دې علاقې د پت خاوند اولس د خپلو ځوانانو د وينې په قيمت خپلواکي حاصله کړې ده. په دې سيمې کښې د انګرېزي اقتدار او واك د ابتدائي دور نه زمونږ د ازادۍ تحريك سر اوچت کړ، محراب خان شهيد، نور مېنګل، شاهجهان جوګيزی، يوسف عزيز مګسي، جانان، شېر جان، اسلم اڅکزی، غازي عبدالله خان، نواب محمد خان جوګيزی، علامه محمد عمر، علامه عبدالعلي، سردار غلام محمد خان ترين، حاجي عبدالغفار خان اڅکزی، حاجي ناصر علي هزاره، علي محمد خان رئېساني، حاجي صورت خان ترين، ملك جان محمد کاسی او عبدالمنان خان مرحوم د نوموړي تحريك د تاريخ لوی لوی عنوانات او بابونه دي"(26).

دغسې د عزت الله نيازي، حمزه شينواري او قاضي محمد عيسیٰ خان مضامين د اهميت وړ دي چې له بېلابېلو تاريخي حقايقو سره اړه لري. امير حمزه شينواري د قائد اعظم په سياسي هلو ځلو تبصره کړې ده او وايي:

"خو ګرانه خبره دا ده چې ډېر د لوی حېثيت مسلمانان د کانګريس په ملګرتيا کښې کلك ولاړ وو او په داسې حالاتو کښې د کانګريس سره ډغره وهل اسان کار نۀ ؤ، خو قائد اعظم ته خدای پاك داسې شخصيت ورکړی ؤ چې د هغوی د محکم يقين او فولادي ارادې په مخکښې د دې ډول اړيکو هيڅ حېثيت نۀ لرلو او د هغوی دا خيال ؤ چې ه چرې د هند په مسلمانانو کښې اتحاد پيدا شو نو د دې نه به ارو مرو يو عظيم تنظيم پيدا شي"(27).

دغسې يې په مخ د انګرېز د پټو او ښکاره حملو او هڅو ذکر کړی دی چې مسلمان تر خپل اثر لاندې راولي خو په مسلمانانو کښې اتفاق، اتحاد موجود ؤ او خپل جزوي اختلافاتو ته يې شا کړه چې په نتيجه کښې يې مونږ ته دغه وطن په برخه شو. او قاضي محمد عيسیٰ د سهېلي پښتونخوا له مسلم ليګ سره په تعلق خبره کړې ده او بلوچستان ته د قائد اعظم راتګ او دلته دوې مياشتې پاته کېدۀ او له مشرانو او د بېلابېلو قبيلو سره ليدلو او مجلسونو ذکر يې کړی دی.

د سهېلي پښتونخوا د مرکزي ښار کوټې د تاريخي جغرافيې په اړه د سلطان محمد پاني مضمون موجود دي، سلطان محمد پاني چې په تاريخي او جغرافيايي حواله په اولس مجله کښې کوم مضامين ليکلي دي هغه ته د پښتو ادب ډېرو لويو ليکوالانو داد ورکړی دی او د اولس مجلې د کاميابۍ يوه ذريعه يې د سلطان محمد پاني له اولس سره تړون او د مضامينو په شکل کښې مرسته يې اهمه ذريعه ښوولې ده. د دوی ډېر مضامين له بېلابېلو مجلو اخستل شوي دي. او بيا ډاکټر صادق ژړك د خپل تنظيم "پښتو ادبي غورځنګ" له خوا چاپ کړي دي. دلته د کوټې په تاريخي جغرافيه خوندور او له معلوماتو ډك مضمون چاپ شوی دی او دغسې د سهېلي پښتونخوا له معدنياتي توکو معلوماتي اړخه د عمرګل عسکر په مضمون کښې د دې سيمې معدنيات او د هغو د پيداواري ښارونو ذکر يې کړی دی او د دوی له مضمونه ښکاري چې ګېس،

تېل، کوئله، کرومائیټ، سنګ مرمر، فلورائیټ، میګنز، جپسم او نور معدني توکي دلته موجود دي او د سهېلي پښتونخوا دا خړه او سپېره مځکه او تور غرونه له قدرتي خزانو سرترپایه ډکه ده او مونږ وینو چې تراوسه پورې په همدغه معدنیاتو کار روان دی او وروسته د نورو معدنیاتو امکان هم شته چې د جدید سائسي علومو په زور مونږ د مځکې له نسه خبرېدای شو.

دغسې په بلوچستان کښې د ادب رفتار، ادب اولس او حکومت، کاکړیو غاړو ته یوه کتنه، شالکوټ او اردو، پښتانهٔ قبایل او کاکړ دغه مضامین له ادب سره تعلق لري چې مونږ په درېم باب کښې ورباندې بحث کوو. د شخصیاتو په دپاره چې کومه برخه موجوده ده د هغې برخې په ضمن کښې په علامه اقبال، خوشحال خان خټک، شاه عبداللطیف بهټائي، نذرالاسلام، جوانسال بګټي او پیر محمد کاکړ باندې د بېلابېلو لیکوالانو خوندور او تحقیقي مضامین موجود دي. هم دغه مضامین ما ویلي دي او په یقین وایم چې د ادبي تحقیقي مقالو په وخت کښې مونږ ته ابتدائي ماخذ کار راکوای شي.

## د ازادۍ سپرلی:

د اولس له خپرندویې ټولنې څخه د نورو کتابونو په شان په 1970ءم کال "د ازادۍ سپرلي" په نامه بل داسې کتاب چاپ شوی دی چې ټول داسې مضامین په کښې دي د پاکستان د جوړېدو په اړه او دغسې د پاکستان تر جوړېدو له مخه د کانګرېس او نورو سیاسي هلو ځلو او د انګرېزانو د تسلط له منځه وړلو په اړه ځنې داسې مضامین موجود دي چې د اولس مجلې په بېلا بېلو ګڼو کښې چاپ شوي دي، لکه د سید احمد شهید په نامه په کتاب کښې مضمون دی چې د هغهٔ لړ نمونه د جولائي 1963ء او اګست 1971ء له مجلو اخستل شوي دي او څهٔ په کښې نوره اضافه هم شوې ده. د صاحبزاده حمید الله مضمون په کتاب کښې د اسلامي هیوادو ازادۍ په نامه دی خو هم دغه مضمون د اکتوبر/ نومبر 1969ء په ګڼه کښې هم چاپ شوی دی. دغسې د دین محمد افغاني دوه مضامین دي چې یو یوازې هم دلته په کتاب کښې چاپ دی او دوېم یې په کتاب کښې چاپ دی خو په اولس مجله کښې هم دغه مضمون د اګست په میاشت په 1981ء کښې چاپ شوی دی. دغسې د کتاب په ابتدا کښې په یوهٔ یوهٔ مخ د قائد اعظم لنډې ژورې او د یو قام یا هیواد د یوالي او بنهٔ ژوند په اړه د نصیحت غوندې خبرې دي چې په بېلابېلو صفحو کښې چاپ شوې دي او ور پسې د صدر یحیٰی خان د یوې صفحې وینا هم چاپ ده. وروسته په کښې مضامین د نذیر خیال، سلطان محمد صابر، صاحبزاده حمید الله، فضل احمد غازي، سید عابد شاه عابد، سید محمد ظاهر شاه، عبدالقدوس دراني، عبدالرحمٰن غور او دین محمد افغاني مضامین شامل دي.

د نذیر خیال د مضمون په اړه ویلی شو چې د پاکستان تر جوړېدو وروسته چې کومه ازادي پاکستانیان محسوسوي تر دغې ازادي له مخه د انګرېز او هندوانو له خوا چې کوم زیاتو او تریخ ژوند تېر شوی ؤ د هغۀ لنډه خاکه ده وروسته د بني اسرائیلو په اړه خبره شوې ده چې بني اسرائیل په ابتدائي دور کښې څنګه ؤ خو وروسته چې موسیٰؑ دین ورته راوړ او دوی په دین مشرف شو، الله تعالیٰ ورته له اسمانه تیار خوراکونه رالېږل خو دوی په دې نعمتونو شکر و نۀ کړ او نتیجه یې دا شوه چې بېرته له سخت ژوند سره مخامخ شول. دغسې د پاکستان تر خپلواکۍ وروسته هم دوی ته په کار دی چې د الله تعالیٰ د دغه لوی نعمت چې خپلواکي یا ازادي ورته وایي په اهمیت پوه شي او له ناشکرۍ کار وانخلي.

وروسته د سلطان صابر مضمون "د ازادۍ تصور" تر سرلیك لاندې چاپ شوی دی چې د بېلابېلو زمانو او بېلابېلو هیوادونو د ازادۍ په اړه بېلا بېل تصورات څېړل شوي دي چې په هغو کښې درې اهمو تصورات داسې دي:

"د علم النفس پوهان وایي چې ازادي د انسان له فطري جبلت سره تعلق لري او د تهذیب او تمدن د پوهانو مفکوره دا ده چې د ازادي تصورات د مدني تقاضو یا دا چې د معاشرې د رسم او رواج مطابق په ځنې مخصوصو خطوطو جوړېږي. ځنې مغربي متکلمین او مفکري په دې خبره متفق دي چې جمهوریت په اصل کښې د مذهب پیداوار دی ولی د ځنې جبلي تعصباتو له امله د اسلام نوم نۀ اخلي یا شاید تعصب ۀ وي بلکې یو نامناسب مصلحت وي"(28).

د ازادۍ د دغو درو تصوراتو سره سره صابر صاحب د ازادۍ د تصور په ابتدائي وخت او وروسته په ارتقائي سفر رڼا اچولې ده، وروسته یې د مسلم مفکرینو او غیر مسلم مفکرینو د نظریاتو په رڼا کښې د ازادۍ په تصور باندې یو خوندور بحث کړی دی.

فضل احمد غازي "د خپلواکۍ همه ګیر تحریك" تر سرلیك لاندې د پاکستان د څورلسم اګست 1947ء د ورځې او تر دې له مخه چې زمونږ سیاسي او قامي مشرانو کومې قربانۍ ورکړې وې او په کومو سختو حالاتو کښې چې یې د دښمن مقابله کړې او ازادي ترلاسه کړې وه په دې ټولو اړخونو خبره کړې ده ورسره یې په خصوصي توګه د قائد اعظم محمد علي جناح رول له ابتدا څخه تر مرګه پورې ستایلی دی، داسې چې د ازادي پاك و هند په تحریك کښې عموماً او په تحریك پاکستان کښې خصوصاً پښتنو مشرانو هلې ځلې کړې دي هغه یې په ګوته کړې دي. دغسې د کانګریس له تحریك سره د پښتنو سیاسي مشرانو او بېلابېلو تحریکونو ذکر او د دني مشرانو چې له دیوبند سره یې تعلق درلود د دوی ټولو قربانۍ ستایلې دي.

د سید عابد شاه عابد د "ازادي او د بلوچستان پښتانۀ" تر سرلیك لاندې د مضمون ابتدا په برصغیر باندې د انګرېزانو له قبضې د ایسټ انډیا کمپنۍ په شکل کښې ذکر کړی دی، تر دې

له مخه یې د مغلي باچا بهادرشاه ظفر تر نیولو له مخه د ټیپو سلطان د بهادرۍ ذکر کړی دی. دا یې هم په ګوته کړې ده چې د پاکستان په نورو صوبو کښې باقاعده تحریکونه روان وو او له سیاسي مشرانو سره سره لیکوال طبقې هم د خپلو لیکنو او شعرونو په زور خپله برخه ګډوله خو په بلوچستان کښې باقاعده تحریك نهٔ ؤ ځکه د دې سیمې پښتنو مشرانو چې په اوس وخت کښې یې مونږ د دې سیمې د غازیانو او شهیدانو په نامه پېژنو زیاته د ازادۍ او دښمن له منځه وړلو هڅې کړې دي. ورسره په څنګ کښې د بلوڅانو مشران هم ملګري وو او د غلام حسېن بګټي او شېرجان او بنګل خان نومونه د دې تحریك د یوې ګلدستې څو ګلونه دي چې هر یو خپل رنګ او خوشبوی لري.

دغسې کټ مټ د سید عابد شاه عابد غونډي د سید محمد ظاهر شاه الاخوان مضمون د "ازادي بلوڅان او بلوڅ هیرو دوده خان" تر سرلیك لاندې مضمون شامل دی په دغه مضمون کښې د انګرېز هندوستان ته راتګ او تاریخي پس منظر باندې بحث شوی دی، او د انګرېزانو چالاکي چې وروسته یې هندوانو ته مراعات ورکړل او د ځان غلامان یې کړل او د دوی په مرسته به یې بیا د مسلمانانو خلاف سازشونه کول، په دغه دور کښې د افغانستان او هندوستان ملایانو د انګرېز خلاف د جنګ فتوٰی هم ورکړه چې په نتجه کښې یې بلوڅان او پښتانهٔ محکوم قامونه یو موټې شول چې د سر سړی یې دوده خان مری ؤ. ورسره د محراب خان، نصیر خان نوري او رحم دل له همدردۍ ډك سلوك هم یاد شوی دی او کله چې شاه شجاع له افغانستانه فراره شوی دی نو هم بلوڅانو ته یې پناه ورې وه او د هغې پناه په اړه لیکي:

"دغسې خان رحم دل خان د افغانانو د رواداري او د بلوڅ قام له دوی سره د زړه تعلقاتو خیال ساتهٔ، او د هغو په رواج کښې د دخل نهٔ کولو یې مثال قائم کړی دی. کوم وخت چې خان رحم دل خان د لس زرو ځوانانو له فوج سره شجاع الملك په تعاقب کښې منګچر ته را ورسېدی نو میر محراب خان د قاصد په لاس دا پېغام و درحم دل خان ته را ولېږی چې تهٔ د بلوڅانو په مېلمستیا او په رواداري ښهٔ خبر یې که چرې د بلوڅ دښمن هم د بلوڅ قوم مېلمه شي او د هغهٔ په پناه کښې راشي و هر بلوڅ دا خپل فرض ګڼي چې د مېلمه ښهٔ خدمت وکړي او د هغهٔ زړه دښمني فی الوقت هېره کړي د هغهٔ حفاظت وکړي"(29).

په پورتني مضمون کښې د پښتون او بلوڅ ثقافت د روایاتو اشتراك او د دوی خوی خصلت یو له بل سره د نژدې اوسېدو په وجه د ثقافتي توکو اخستلو خبره شوې ده او ضمناً په کښې د بدرګې او مېلمستیا او پناه درې ثقافتي توکي ذکر شوي دي. هم دغه توکي چې څومره په بلوڅانو کښې د اهمیت وړ دي حقیقتاً په پښتنو کښې هم د دې ټولو توکو دغسې تصور موجود دی. وروسته یې د

مشهورو بلوڅانو قامي مشرانو چې د خپلواکۍ دپاره يې زياتې هلې ځلې کړې دي په تفصيل سره ذکر شوي دي او د مخصوصو کردارونو نومونه هم په مضمون کښې شامل دي.

د عبدالقدوس دراني مضمون "ازادي مونږ ته څۀ راکړل؟" تر سرليك لاندې په کتاب کښې شامل دی چې د خپلواکۍ ترلاسه کولو وروسته د انسان دپاره څۀ کول په کار دي؟ په هغو کښې لومړی ازادي لوی نعمت ګڼل شوې ده او د نعمتونو که هر ډول وي د هغو په اهميت ځان خبرول او په هغو نعمتونو برسېره د الله تعالیٰ نافرماني نۀ کول په کار دي او په ازادۍ حاصلولو سره مونږ خپلو رواياتو او عقايدو ته توجه ورکولی شو، قومي ښېګړې او اجتماعي ګټو ته زياته توجه ورکولی شو ورسره داسې نور هم ځنې اهم شيان په ګوته شوي دي.

يو بل مضمون "د کوټې قلات د ازادۍ پس ترقي" تر سرليك لاندې مضمون ليکلی شوی دی او په هغو ټولو ترقياتي ادارو بحث شوی دی کومو ته چې هر وخت اولس ضرورت لري او د اولس بقا او پرمختګ ورسره تړلی دی لکه ځنګلونه، د حيواناتو تحفظ، زراعت او صنعتي ادارې. په دې ټولو تفصيلي بحث شوی دی.

ورسره په اخير کښې د دين محمد افغاني د ازادۍ پس زمونږ فرائض تر سرليك لاندې مضمون چاپ دی، چې هغه ټول فرائض چې په انساني او اخلاقي توګه د انساني دپاره ضروري وي په دې بحث شوی او کوم نصيحت غوندې بحث چې کوي هغه د قرآني ايتونو په رڼا کښې کوي. يقيناً هم چې دغه فرائض مونږ په ځان لازم کړو نو هم د ټولنې او هم د هيواد په کښې ګټه ده. ورسره د "زمونږ ازادي د تاريخ په رڼا کښې" مضمون دی چې د ازادۍ په تاريخ باندې په تدريجي توګه د مغلو له دوره بيا په تسلسل سره د انګرېزانو او بيا د هندوانو له دوره وروسته په خپله ازادي باندې بحث شوی دی.

دغسې د ازادۍ جنګ او څورلسم اګست، قائد اعظم او قرارداد پاکستان، ډاکټر علامه محمد اقبال، سيد احمد شهيد برېلوي او يو لنډ غوندې مضمون د باني پاکستان د پردو په نظر کښې تر سرليك لاندې دغه مضامين د ازادۍ په سپرلي کښې چاپ شوي دي، په وروستۍ برخه کښې يې د بېلابېلو ملکونو د باچهانو عکسونه او ورسره د مشهورو ورځپاڼو نومونه راغلي دي. په پای کښې د "يو تاريخي اثر" په نامه مضمون چاپ دی. دغه وروستني مضامين ټول د ادارې له خوا چاپ شوي دي او د کتاب په ښايست کښې يې نوره اضافه کړې ده.

### شاغاسي اکا:

دغه د اولس مجلې خپرندويې ټولنې څلورم اثر دی چې په کښې د عبد القدوس دراني د يوې مشهور ډرامې بېلابېل قسطونه د شاغاسي اکا په نامه په اولس مجله کښې په مختلفو مجلو

کښې چاپ کېدل نو اداري د لوستونکو په خوښه له اولس مجلې را ټول کړل او په کتابي شکل کښې يې چاپ کړل. او شپږ دېرش (36) قسطونه په کښې را غونډ شوي دي. خو د اداري کومو کسانو چې په دې چاپولو کښې کومې هڅې کړې دي، هغه د ستايلو وړ دي ځکه چې په نولس سوه يو اويا کښې له ننه يو اويا کاله له مخه د جون په مياشت کښې دغه اثر د هغه وخت ادبي ميدان ځلا شو چې هغه وخت د ډرامې جوړولو رجحان ډېر کم ؤ خو د ليکلو رجحان يې يو مخ نۀ ؤ. خو لکه چې ما مخکښې وويل دغه به د سهېلي پښتونخوا لومړنۍ چاپ شوې ډرامه ګڼل کيږي. که څۀ هم څنې نيمګړتياوې لري. لومړی خو دا چې شاغاسي اکا يوه روغه ډرامه ده چې ټول دوه اتيا (82) قسطونه يې په اولس مجله کښې چاپ شوي دي. له دغو ټولو قسطونو څخه فقط شپږ دېرش قسطونه راغلي دي خو بيا به هم غنيمت وای او ممکنه به وه چې دا نور قسطونه يې ترتيب وار په دويم اثر کښې چاپ شوي وای، خو د بدبختۍ خبره دا ده چې د ډرامې منځني قسطونه په کتابي شکل ډرامه کښې نۀ دي چاپ شوي چې له کبله يې د ډرامې ټول تسلسل مات شوی دی. د بېلګې په ډول د اګست 1965ء د مجلې قسط په کتاب کښې نۀ دی چاپ او ورسره د جنوري 1966ء، مارچ، اپرېل، مئ، جون 1966ء، ستمبر 1967ء، جنوري 1968ء، اپرېل 1968ء، جنوري 1969ء او جنوري 1969ء قسطونه په کتابي چاپ شوې ډرامه کښې نۀ دي چاپ شوي او دا اندازه هم اوس مونږ کوای شو چې په يوه ډرامه کښې د منځ يوولس (11) قسطونه له منځه ولاړ شي نو ښکاره خبره ده چې چاپ شوې ډرامه ټوله بې معنٰی شوه، ځکه چې په ډرامه کښې اهم عنصر قيصه وي او د قيصې روح په داسې تېروتنو سره زخمي کيږي او چې د قيصې روح ته تاوان ورسيږي نو ټوله ډرامه د قيصې له کبله نيمګړې شي او د لوستونکي د تسلسل تنده پرې نۀ ماتيږي.

نوره ډرامه ټوټل دوه اتيا (82) قسطونه چاپ شوې ده، له شپږدېرش قسطونو پرته نور ډرامه بايد چې دغې اداري په دوو نورو جلدونو کښې چاپ کړې وای، لکه د عبدالقدوس دراني چې په خپل ژوند کښې د اناګو ډرامه هم په دوه قسطه کښې ترتيب کړې وه چې يو قسط د دۀ په ژوند چاپ شو او دوېم قسط يې پښتو اکېډمۍ کوټې د دوی له ابدي تګ وروسته چاپ کړ. دغسې د اناګو ډرامې هم څنې قسطونه په اولس مجله کښې په بېلا بېلو ګڼو کښې چاپ شوي دي. او هغه بيا ټوله ډرامه په مجله کښې نۀ شته. اوس دې خدای وکړي چې د عبدالقدوس دراني د شاغاسي اکا ډرامې پاته قسطونه له هم له زړو شپږدېرشو (36) قسطونو سره يو ځای کړي او چاپ يې کړي. ځکه چې د شاغاسي اکا په ډرامه کښې د شاغاسي اکا کوم کردار دی هغه د ژوند د بېلابېلو اړخونو په اړه له عبرت ډکه ډرامه وړاندې کړې ده.

**ګلزمين**:

ګلزمین د دې خپرندویې ټولنې پنځم وور اثر دی چې په دریو ژبو براهوي، پښتو او بلوڅي کښې چاپ شوی دی. د پښتو په کښې وروکې د شاعرۍ برخه په کښې شامله ده. په دې کښې ځنې داسې شعرونه موجود دي چې په اولس مجله کښې وخت په وخت چاپ شوي دي او ځنې شعرونه په اولس مجله کښې نۀ دي چاپ شوي یوازې په دغه ګلزمین نومي کتاب کښې چاپ دي.

د سید محمد رسول فریادي یوه ترانه خپل وطن ته لیکلې په ګلزمین کښې چاپ ده چې همدغه ترانه د اګست په میاشت 1965ء کښې په اولس مجله کښې چاپ ده. د محمد اسلام ارماني یو نظم قائد اعظم محمد علي جناح په نامه په ګلزمین کښې او همدغه نظم د اګست په میاشت په کال 1974ء کښې چاپ شوی دی. دغسې ملي سندره په کتاب کښې چاپ شوې ده چې وروسته بیا په اګست 1983ء کښې په اولس مجله کښې چاپ شوې ده. دغسې د شهاب هاشمي نظم د څورلسم اګست تر سرلیك لاندې په کتاب کښې چاپ دی چې وروسته د اګست/ ستمبر 1975ء په اولس مجله کښې چاپ شوی دی. د هیواد پاکستان تر سرلیك لاندې د عبدالمنان زهیر نظم موجود دی چې په اولس مجله کښې د اګست په میاشت 1984ء کښې چاپ شوی دی. دغه نظم په مجله کښې چاپ دی خو اخستل شوی له ګلزمین کتابه دی. دغسې د بهرام زخمي نظم په کتاب کښې چاپ شوی دی چې هم دغه نظم د اولس مجلې د مارچ په میاشت 1986ء کښې چاپ شوی دی. وروستی د احمد الله نظم "ګرانه پاکستانه! تر سرلیك لادې په ګلزمین نومي کتاب کښې چاپ شوی دی چې وروسته د نومبر 1973ء په اولس مجله کښې چاپ شوی دی.

له دې پرته د ګلزار علي خان اخوند، عبدالرؤف رفیقي، فضل الرحمان فیضان، عبدالکریم بریالي او مقدس خان معصوم نظمونه د پاکستان او وطن تر سرلیك لاندې چاپ شوي دي. دلته د ټولو شاعرانو له نظمونو ورې نمونې ورکول غواړم:

"اوس بـه دې لـوړ کـړم پـر دنیـا نـام و نشـان وطنـه! زمـونږ د ځـان وطنـه!
سـتا مسـتقبل بـه درخشـان کـړو پاکسـتان وطنـه! اې عـالیشـان وطنـه!
د لوړ عظمت وطنه، زمونږ د عزت وطنه، د زراعـت وطنـه! د برکت وطنـه!
که خـدای کـول تـا بـه ابـاد کـړو زمـونږ ګـران وطنـه! اې عـالیشـان وطنـه!(30)

(سید محمد رسول فریادي)

"زمـا وطنـه د هـر څیـز ه مـا تـه ګـران وطنـه :: جنـت نشـان وطنـه!
سـتا نظریـه ده، کـل عـالم بانـدې عیـان وطنـه! جنـت نشـان وطنـه!
هره لمحه ستا ترقي او ابـادي غـواړمـه :: د سرحدونو اسـتحکام او ازادي غـواړمـه
سـتا پـه نـامو بانـدې بـه ځـان کړمـه قربـان وطنـه! جنـت نشـان وطنـه!"(31)

(مقدس خان معصوم)

"وفا څۀ ده، نام و ننګ به تر تا جار کړم :: د ښکلا دغه ځواني به درایثار کړم
زۀ به څۀ یم زما هرڅۀ واړه له تا دي :: ځان به خاورې کړم خو لوړ به ستا وقار کړم
د خوږې موري پـه شانی الفتونه :: پـه تـوده جذبـه يـې کانـدې پـه زړګونه
هـر وګړی ځان د مینـې پـه تار پېيـي :: سـوکالي يـې پـه ژوند راوستل خوندونه
ستا د مینـې برکت دی خوږ وطنه! ستا پـه خاوره کښـې غیـرت دی خـوږ وطنه!
دغه لوظ به د خدای په مخ کښې کړمه :: ستا ساتنه زما پت دی خوږ وطنه!"(32)

(عبدالکریم بریالی)

"د ستم په تیاریکو کښې سوې روښانه لکه لمر :: د هیبت په تورو شپو کښې سوې پېغام د روڼ سحر
د حالاتو و ډګر ته کلک ځیګر و دربدې :: مسلم قوم دې ؤ توره مسلمان دی هم ؤ سپر
رؤف ستا یادونه ستایم په فضا کښې په نغمو :: اې قائده! ستا دپاره پرواه نۀ لرم د سر"(33).

(عبدالرؤف رفیقي)

دغسې د نورو ډېرو شاعرانو هم د خپل هیواد او خپلې خاورې سره د مینې او عقیدت په توګه پیرزوینې وړاندې شوې دي.

**نتیجه**: د اولس مجلې د عامو ادبي، سیاسي، اخلاقي او نورو موضوعاتو په څنګ کښې خاص ادبي خدمات د خصوصي ګڼو او خصوصي کتابونو په شکل کښې راغلي دي چې ځنې په کښې ادبي نثري او منظوم کتابونه دي او ځنې په کښې د اهمو ادبي شخصیاتو ادبي خدماتو ته ځانګړې شوې مجلې وې. د دې ټولو مجلو او کتابونو لنډه پېژندګلوي او د مضامینو په اړه معلومات او سرچینې د لیکوالانو په نثري او شعري لیکنو د دې مقالې اهم جز ؤ چې په تر خپله وسه د ټولو کتابونو او مجلو تجزیه ستاسو مخې ته وړاندې شوې ده، که دغسې په اوس وخت کښې رواني مجلې هم داسې ځانګړو خدماتو ته توجه وکړي نو عین ممکنه ده چې د سبا دپاره به د خصوصي ادب اهم اصناف او د ادب د ډګر اهم شخصیات په اساني سره لوستونکي پېژندای شي.

❀❀❀

# حوالې


(1) کاکړ، سیال، پښتو او پښتانۀ په سهیلي پښتونخوا کښې، قلات پبلشرز کوټه، 1981ء، مخ97، 98.

(2) غازي، فضل احمد، د هندوانو په کتابونو کښې د پاك نبي د راتګ زېرې، (مشموله اولس کوټه)، (خصوصي ګڼه)، جولائي 1964ء، مخ13.

(3) اثر، عبدالحلیم افغاني، رحمة للعٰلمین، (مشموله اولس کوټه) جولائي 1965ء، اسلامیه پرېس کوټه، مخ19.

(4) اثر، عبدالحلیم افغاني، رحمة للعٰلمین، (مشموله اولس کوټه) جولائي 1965ء، اسلامیه پرېس کوټه، مخ12.

(5) اثر، عبدالحلیم افغاني، رحمة للعٰلمین، (مشموله اولس کوټه) جولائي 1965ء، اسلامیه پرېس کوټه، مخ11.

(6) امیر عثمان، د بزم ثقافت پېژندګلوي، (مشموله اولس کوټه) اسلامیه پرېس کوټه، اکتوبر 1964ء، مخ3، 4.

(7) رضا، افضل، (مشموله څولۍ ګلونه) نشر و اشاعت قبایل کوټه، 1970ء، مخ9.

(8) فریادي، محمد رسول، (مشموله څولۍ ګلونه) مخ14.

(9) هامد، (مشموله څولۍ ګلونه) مخ15.

(10) ختک، اجمل، (مشموله څولۍ ګلونه)، مخ31، 32.

(11) سیال، غازي، (مشموله څولۍ ګلونه)، مخ35.

(12) کلاچوي، طاهر، (مشموله څولۍ ګلونه) مخ36، 37.

(13) اسیر، عبدالله جان، (مشموله څولۍ ګلونه) مخ47.

(14) مظهر، محمد قاسم، (مشموله څولۍ ګلونه)، مخ70.

(15) سیال، غازي، (مشموله څولۍ ګلونه)، مخ141.

(16) مهمندی، ایم رضا، (مشموله څولۍ ګلونه)، مخ143.

(17) بزمي، نادرخان، (مشموله څولۍ ګلونه)، مخ147.

(18) څلاند، ابوالخیر، (مشموله څولۍ ګلونه) مخ152.

(19) عبدالسلام، قاضي، محمد ﷺ، (مشموله انتخاب) قبایلي نشر و اشاعت کوټه، جون 1970ء، مخ17، 18.

(20) حمید الله، صاحبزاده، رنا، (مشموله انتخاب) قبایلي نشر و اشاعت کوټه، جون 1970ء، مخ31.

(21) تفسیر المدارك، پاره الم، سورة البقره، آیت.... ص47.

(22) تفسير يسير، سورة البقرة، پاره الم، آيت....
(23) حاشيه، د تفسير يسير، سورة البقره، پاره الم، ص20.
(24) افغاني، کوئټه او قلات کښې د اسلام رڼا، (مشموله انتخاب) قبايلي نشر و اشاعت کوټه، جون 1970ء، مخ دين محمد، مخ45، 46.
(25) دراني، عبدالسلام، اقبال او ازادي، (مشموله انتخاب) قبايلي نشر و اشاعت کوټه، جون 1970ء، مخ107.
(26) غازي، فضل احمد، په ازادي کښې د بلوچستان برخه، (مشموله انتخاب) کوټه، مخ112.
(27) شينواری، امير حمزه، قائد اعظم او پاکستان، (مشموله انتخاب) کوټه، مخ135.
(28) صابر، سلطان محمد، د ازادۍ تصور، (مشموله د ازادۍ سپرلی)، مخ28.
(29) محمد ظاهر شاه، سيد الاخوان، ازادي بلوښان او بلوښ هيرو دوده خان، د ازادۍ سپرلی، مخ 97 98.
(30) فريادي، محمد رسول، سيد، ترانه، (مشموله ګلزمين کوټه) پرېس انفارمېشن ډيپارټمنټ کوټه، اګست 1983ء، مخ43.
(31) معصوم، مقدس خان، جنت نشان وطنه، (مشموله ګلزمين کوټه) پرېس انفارمېشن ډيپارټمنټ کوټه، اګست 1983ء، مخ45.
(32) بريالی، عبدالکريم، وطن، (مشموله ګلزمين کوټه) مخ51.
(33) رفيقي، عبدالرؤف، قائداعظم، (مشموله ګلزمين کوټه)، مخ53